## د ښځو ولایتي شبکې

# له شپاړس ورځني فعالیت څخه زده کړه

۱۰الندی ۱۳۹۹

دا چې موږ د ۲۰۲۰ کال لپاره د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړلو په اړه ۱۶ ورځني فعالیت د پای په شپبو کې یو، موږ د افغانستان له پنځلسو ولایتونو څخه د ښځو د ولایتي شبکو غړي له نړیوالې ټولنې څخه مننه کوو چې د افغانستان او د افغان مېرمنو د حقونو ملاتړ او د هغو ساتنه کوي. افغانستان د خپلو نړیوالو شریکانو او ملګرو د یو بل پړاو سخاوتمندانه مرستو شاهد و، چې د ۲۰۲۰ کال په نومبر کې د جینیوا کنفرانس له لارې یې ژمنه وشوه.

اوسمهال په افغاني ټولنه کې د ښځو په رول کې پرمختګ شوی چې په تېرو دوو لسیزو کې د پام وړ زیاتوالی ښيي. ښځې نن ورځ نه یوازې دا چې په لوړو موقفونو لکه د سفیرانو، وزیرانو او معینانو په توګه کار کوي، بلکې د امنیت، عدلي او د عامه روغتیا په سکتورونو کې هم برخه لري. د نجونو د سواد کچه چې په ۲۰۰۱ کال کې تقریباً ٪۰ ته نږدې وه، اوسمهال ٪۳۷ ته لوړه شوې او د میندو د مړینې کچه په ۲۰۰۱ کال کې له ۱۳۹۰/۱۰۰،۰۰۰ څخه اوسمهال ۴۰۰/۱۰۰،۰۰۰ ته راښکته شوې. پر دې سربېره چې په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د رژیم له ړنګېدو راهیسې د جنسیتي برابرۍ په برخه کې بنسټیز ښه والی رامنځته شوی، افغاني ښځې لا هم نامطلوب ژوند لري، ځکه چې زموږ هېواد د ښځېتوب له اړخه د نړۍ د تر ټولو ناوړه سیمو په ډله کې راځي.

د کوېډ-۱۹ وبا په جریان کې افغان مېرمنې د نړۍ په کچه د جنسي او جنسیت پر اساس تاوتریخوالي له لوړې کچې څخه کړېدلې، چې د ټول ښځینه نفوس ۸۷ سلنه اغېزمنوي. په کم عمر د ودولو، کورني تاوتریخوالي، د میراث حقوقو څخه د انکار، بدل، بد او د بکارت پردې د معاینې په بڼه جنسي او جنسیتي تاوتریخوالی معمول دود دی.

دا چې ولسي شبکې له کلیوالي ټولنو سره له نږدې کار کوي، موږ د ښځو پر وړاندې د جنسي او جنسیت پر اساس تاوتریخوالي په مخنیوي، د سولې په پروسو کې د ښځو د پراخ مشارکت او عامه خدماتو لکه روغتیا او زده کړو ته د ښځو د مساوي لاسرسي په برخو کې حیاتي رول لوبوو.



په ۲۰۲۰ کال کې د ټولنې له مشرانو، دیني عالمانو او د ځوانانو له ګروپونو سره د نږدې کار په پایله کې مو د ټولنې خبرو اترو (ډیالوګونو) له لارې د مختلفو ټولنو له څه باندې ۲۰،۰۰۰ غړو سره لیدلي او د کوېډ-۱۹ په اړه مو د پوهاوي د لوړولو، د وقایوي/مخنیوونکو تدابیرو د نیولو او پر رواني روغتیا د کورونا وبا د اغېزو چې د کورني تاوتریخوالي د زیاتوالي لامل کېږي، دروازه په دروازه کمپاینونه کړي دي. موږ همدا شان د ټولنې په کچه له خپلو جوړښتونو څخه استفاده کړې ترڅو په دې اړه خلکو ته پوهاوی ورکړې چې کوېډ-۱۹ څنګه د هغوی ژوند اغېزمنوي او له ناورین سره څنګه مبارزه وکړي. دا کار حساس و، په ځانګړې توګه د وبا په لومړۍ مرحله کې چې هغه مهال خلکو د کوېډ-۱۹ په اړه حتی لومړني معلومات هم نه درلودل.

پر دې سربېره، د PWN غړو د ښځو چارو ریاستونو، عامې روغتیا او والیانو سره منظمې غونډې وکړې ترڅو له هغوی سره هغه ستونزې او ننګونې شریکې کړي چې ټولنې ورسره د وبا په وخت کې مخ وې، همدارنګه د دې غونډو موخه دا وه چې د وبا، رواني روغتیا او کورني تاوتریخوالي په تړاو د حکومت له تګلارو او تدابیرو څخه ځان خبر کړو. زموږ یو شمېر غړو د عامې روغتیا وزارت او د ښځو چارو ریاستونو له لورې د همغږۍ د رامنځته شویو کمېټو په غونډو کې هم ګډون کړی.
د داسې مېرمنو په توګه چې د افغانستان په بېلابېلو ولایتونو کې ژوند کوو، د مختلفو موضوعاتو لکه د سولې جوړونې، د شخړو د حل، ښې حکومتولۍ او د وبا لپاره د تدابیرو په اړه په ولسي کچه له ټولنو سره کار کوو؛ غواړو چې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي په تړاو د حکومت، طالبانو، مدني ټولنې او نړیوالې ټولنې په شمول له ټولو ښکېلو اړخونو سره خپل نظریات شریک کړو:

۱. **پر ماشومانو د کورني تاوتریخوالي اغېزې:** مورړ له خلکو سره د خبرو او د کور په کور کمپاینونو په جریان کې مشاهده کړه چې په فامیلونو کې کورنی تاوتریخوالی نه یوازې دا چې میندې اغېزمنوي، بلکې د ماشومانو سلامتیا او عزت نفس هم په شدید ډول متاثره کوي. کله چې له میندو سره تاوتریخجن چلند کېږي، نارینه دې ته ډېر کم متوجه کېږي چې هغوی په دې کار سره له رواني پلوه خپل ماشومان هم شکنجه کوي. د دې لپاره چې نارینه د ښځو پر وړاندې د تاویرخوالي د اغېزو پر حساسیتونو پوه شي، مورړ له دې تکتیک څخه ګټه واخیسته او ورته مو وویل چې دا کار نه یوازې د ښځو بلکې د ماشومانو سلامتیا هم ګواښي. مورړ وموندل چې نارینه وو دا موضوع جدي وګڼله او لیدل کېده چې که ښځو ته پاملرنه نه کوي، نو ماشومانو په ځانګړي توګه هلکانو ته یې پاملرنه کوله. په دې توګه، مورړ وړاندیز کوو چې د ماشومانو پر وړاندې د کورني تاوتریخوالي د منفي اغېزو په اړه پوهاوی وشي. د نسرین لور ځان وژنه وکړه ځکه چې هغې د خپل مور پر وړاندې تاوتریخوالی نه شوای زغملی. https://www.youtube.com/watch?v=ZeQyW19uVBM&t=17s



۲. **د تاوتریخوالي په له منځه وړلو کې د کورنۍ د غړو رول:** مورړ دا هم مشاهده کړل چې پرته له دې چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالی څومره جدي او سخت دی، د کورنۍ غړي په دې باور و چې تاوتریخوالی یوه کورنۍ مسئله چې له بېرون څخه یکي ځوک باید مداخله ونه کړي. مورړ ته دا ګټور ثابت شو چې د تاوتریخوالي له منځه وړل باید د یوې اخلاقي یا دیني وجیبې په توګه مطرح شي او د کورنۍ غړي باید د تاوتریخوالي د له منځه وړلو لپاره یو بل ته لاسونه ورکړي. له همدې امله زمورړ په باور دا مهمه ده چې ټولنې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي د راکمولو لپاره د اصولي موقف په خپلولو سره د کورنیو غړو ته د هغوی د رول د اهمیت په اړه پوهاوی ورکړي. صحرا د خپلې کورنۍ له خوا په کوچني عمر کې واده کولو ته مجبوره شوې وه او نومورې نه یوازې دا چې د خپل مېړه له خوا وهل شوې وه، بلکې د کورنۍ له خوا هم وهل کېده، که چېرې نومورې د خپل کورنۍ له خوا حمایه شوې وای، کولای یې شوای چې له مېړه طلاق واخلي. https://www.youtube.com/watch?v=ZeQyW19uVBM&t=224s

۳. **رسمي او غیر رسمي عدلي سیستمونه دواړه د ښځو پر زیان دي:** مورړ چې کله چې د تاوتریخوالي د قرباني ښځو کیسې واورېدې، پوه شوو چې رسمي او غیر رسمي عدلي سیستمونه دواړه د ښځو پر زیان دي. غیر رسمي عدلي سیستمونه د ښځو د سنګسارولو او وژلو تابع دي او رسمي سیستمونه باید د فساد جنسي غوښتنو له خطر سره مخ دي. مورړ په یو شمېر سیمو کې ځینې موارد وموندل چې پر اساس څارنوالانو او قاضیانو له یو شمېر مېرمنو څخه د جنسي رشوت غوښتنه کړې وه. اړتیا ده چې د عامه بنسټونو د کړنو د نظارت لپاره خپلواک جوړښتونه رامنځته کړو او خپلواک عمومي راپورونه تولید کړو. مورړ ولیدل چې په غیر رسمي عدلي میکانیزمونو کې ښځې له مشارکت څخه له پامه غورځول شوې او داسې پرېکړې یکې کېږي چې د ښځو حقوق نقض او تلف کوي، له همدې امله سپارښتنه کېږي چې ښځو ته په غیر رسمي عدلي پروسو کې د ګډون اجازه ورکړل شي، ترڅو له نورو مېرمنو سره د هغوی په قضیو کې مرسته وکړي.

۴. د تاوتریخوالي د قربانیانو لپاره حقوقي پوهاوی او ملاتړ اغېزناک دي: زمورړ د خبرو او کمپاینونو په لړ کې ولیدل شوه چې ګڼ شمېر ښځې تاوتریخوالی لا هم د یوه نورم په توګه زغمي، خو یوازې هغه مېرمنې یې پر خلاف درېږي چې د خپلو اساسي حقونو په اړه ورته پوهاوی او حقوقي مرستې برابر شوې دي. له همدې امله مهمه ده، چې کله ښځو ته د هغوی د اساسي حقونو په اړه پوهاوی ورکول کېږي، اړتیا ده ترڅو د حقوقو مساعدتونو یا مرستو د برابرولو لپاره جوړښتونه او بنسټونه رامنځته کړو. له ننګرهار ولایت څخه نازو هغه وخت د تاوتریخوالي خلاف غږ پورته کړ، کله چې ورته حقوقي مرستې مهیا شوې. https://www.youtube.com/watch?v=Prq8yGywVFM&t=7s



**۵. له اقتصادي پلوه د ښځو پیاوړتیا له هغوی سره مرسته کوي چې د تاوتریخوالي خلاف پورته شي:** دا ډېره ناهیلي کوونکې ده چې ښځې د خپلو حقونو په اړه پوهېږي، خو د تمرین یا ترلاسه کولو لپاره یې اقدام نه کوي. خپلو حقونو ته په لاسرسي کې پاتې راتګ تر ډېره د ناهیلۍ او اضطراب لامل کېږي او **ښځې دې ته هڅوي چې پر ناوړین زیږوونکو اقداماتو لکه ځان سوځونې ته مخه کړي. خو مورړ ولیدل، کله چې ښځې له اقتصادي پلوه پر ځای بسیا وي، نارینه نه یوازې دا چې هغوی ته درناوی کوي بلکې مساویانه چلن ورسره کوي او آن کله چې حقوق یې نقض شي، کولای شي چې د تاوتریخوالي او تبعیض خلاف ودرېږي. له همدې امله مهمه ده چې د ښځو ملاتړ وکړو ترڅو اقتصادي پر ځان بساینې ته ورسېږي.**

**۶. د تاوتريخوالي خلاف د غږ پورته کولو لپاره د رول ماډلونو/بېلګو تقويه کول:** موږ د خپلو خبرو او کمپاينونو په لړ کې مشاهده کړه چې يو شمېر ښه نارينه، ځوانان، ديني علماء او د ټولنې مشران هم شته چې د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي مخالف دي. موږ بايد په خپل ټولنو کې دا ډول مشران او فعالين د رول ماډلانو/بېلګو په توګه وهڅوو، ترڅو د تاوتريخوالي خلاف د غږ پورته کولو لپاره د نورو لپاره الهام شي. فاطمه چې له خپل ملګري هلک څخه يې حمل اخيستی و او بيا يې پرېښې وه، د خپلې کورنۍ له خوا مجازات شوه، خو نوموړې هغه وخت ډېرته خوشالي پيدا کړه چې يو سړی يې ترڅنګ ودرېد او نه يوازې دا چې واده يې ورسره وکړ، بلکې ماشوم يې هم ورته قبول کړ. https://www.youtube.com/watch?v=J3H5ArIGriQ

موږ د افغانستان د کليوالي سيمو ښځې په کورونو، ټولنو او اجتماع ګانو کې د ښځو رول په اړه د پام وړ پرمختګونو شاهداني يو. اوسمهال د ښځو د حقونو او پرمختګ په برخه کې ټولې هڅې او پانګونې د لمس وړ دي. زموږ په باور د يوې سوله ييزې ټولنې د رامنځته کېدو لپاره يوازينۍ لاره د تاوتريخوالي او ځورونې له منځه وړل او ټولو وګړو ته له خپلو حقونو او ازاديو څخه د ګټې اخيستنې د زمينې برابرول دي. په دې توګه مهمه ده چې د يوه ګډ ټولنيز ارزښت په توګه د ښځو د حقونو د لا پياوړتيا په موخه خپلو هڅو ته دوام ورکړو. اړتيا ده چې کورنيو او خلکو ته په دې اساس درناوی وکړ چې هغوی د ښځو موقفونو، ژوند، زغروال موټر او باډيګاردانو پر ځای په خپله مېرمنو او بې وزله خلکو ته د يو انسان په توګه درناوی وکړي.

**د ښځو ولايتي شبکې** د افغانستان د عدليې وزارت سره د ولسي شبکو په توګه ثبت او راجستر دي. د ښځو ولايتي شبکه د هېواد له هر ولايت او هرې سيمې څخه ښځې راټولوي، ترڅو باور او اعتماد رامنځته او له مختلفو اړخونو سره اتحاد وکړي او په خپلو ټولنو کې د شخړو د حل، د سولې جوړونې او د خدماتو د وړاندې کولو په برخو کې کار وکړي. د ښځو ولايتي شبکه له ۳۰ تر ۴۰ تنو غړو په لرلو سره د هېواد په ۱۵ ولايتونو (کابل، پروان، باميان، ډايکندي، هلمند، کندهار، اروزګان، پکتيا، ننګرهار، لغمان، کندوز، بدخشان، بلخ، فارياب او هرات) کې فعاليت کوي. دغه شبکې د سولې او ډيموکراسۍ لپاره د برابرۍ بنسټ (EPD) له خوا په ۲۰۱۱ کال کې په ۷ ولايتونو کې تاسيس شوې وې چې وروسته د Cordaid په تخنيکي ملاتړ ۱۵ ولايتونو ته وغځېدلې. د شبکې غړو ته د هغوی د اړتياوو پربنسټ روزنيز او د ظرفيت جوړونې پروګرامونه عملي کېږي، ترڅو په خپلو ټولنو کې لا زيات ګټور منځګړي او سوله جوړوونکو اوسي. تر دې دمه د شبکې غړي توانېدلي چې  څه باندې ۱،۱۱۸ قضيو ته رسيدګي او منځګړيتوب وکړي، چې په دې کې د شخړو د حل قضيې، د ښځو پر وړاندې د تاوتريخوالي قضيې، د کم عمره نجونو د ودولو قضيې، د ښځو تعليم او پياوړتيا، د کاري فرصتونو برابرول، د ښځو سياسي مشارکت او په خپلو ټولنو کې د ښځو د تعليم پياوړتيا شامل دي. د ښځو ولايتي شبکې د افکارو د تبادلې او له يو بل سره د پوهې د شريکولو په موخه له خپل منځ کې منظمې غونډې کوي، همدارنګه د ښځو له مشرانو، پاليسي جوړوونکو او له نورو هغو کسانو سره چې د شخړو په حل، سوله او حکومتدارۍ کې د هغوی د غوښتنو استازولي کوي، ليدنې کتنې کوي. د ښځو ولايتي شبکې له خوا د کوېډ-۱۹ او له رواني روغتيا او کورني تاوتريخوالي سره د هغه د اړيکې په تړاو د عامه پوهاوي او د حق غوښتنې فعاليتونه د محلي نوښتونو لپاره د کاناډا سفارت د ټولنې صندوق (CFLI) له خوا هم حمايه او هرکلی يې شوی دی.